# د اداري فساد پر وړاندې د افغانستان مبارزه

## د سولې او سوکالۍ لپاره بنسټيز کار



UNAMA

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو مرستندويه پلاوی

مې ۲۰۱۹

# د راپور لنډیز

په ۲۰۱۸ او د ۲۰۱۹ په لومړیو کې افغانستان له اداري فساد سره د مبارزې د اصلاحاتو تطبیقول جاري ساتلي. که څه هم د تطبیق په برخه کې لا تر اوسه ننګوني شته، خو د اصلاحاتو هڅې له اداري فساد سره د مبارزې د یوه پیاوړي چوکاټ او د دغو اصلاحاتو د تطبیق لپاره د ځانګړو ادارو په جوړونه کې خورا پرمختګ کړی. د قانون د واکمنۍ او له اداري فساد سره د مبارزې د عالي شورا په لوړو کچو کې له اداري فساد سره د مبارزې د اصلاحاتو همغږي، له اداري فساد سره د مبارزې د ځانګړي عدلي او قضائي مرکز چارې، د جزا په نوي قانون کې د اداري فساد پر ضد د ملګرو ملتونو کنوانسیون سره په سمون کې د اداري فساد د ټولو الزامي جرمونو درج کول، او له اداري فساد سره د مبارزې د ځانګړې ستراتیژۍ او له اداري فساد سره د مبارزې د قانون تصویبونه د اداري فساد له پراخې ستونزې سره د مبارزې لپاره د افغانستان د ژمنتوب ښکارندوی دي. په داسې حال کې چې د ادارو جوړول او د قوانینو او ستراتیژۍ ګانو تصویبول د ژمنتیا ځرګندې نښې دي، خو د پام وړ پایلو د ترلاسه کولو لپاره د ستراتیژۍ ګانو پلي کول او د ادارو عملیاتي کول دوامدارو هڅو ته اړتیا لري. د بیا کتنې موده د زیاتیدونکې بې صبرۍ شاهده وه چې پر وخت او چټک ډول د ستراتیژیو او قوانینو د نه تحقق له امله رامنځ ته شوې وه.

په ۲۰۱۸ کال کې افغانستان د شفافیت او اداري فساد د انګیرنې په نړیوال انډکس کې له جمله ۱۸۰ هغو څخه په ۲۰۱۷ کال کې له ۱۷۷ څخه په ۲۰۱۸ کې ۱۷۲ مقام ته لوړ شو، کوم څه چې یوه اندازه ښه والی په ډاګه کوي.[1] دغه راز د راپور ورکولو موده د سترو پرمختګونو شاهده وه، لکه د اکتوبر پر ۲۰-۲۱ نېټه د ولسي جرګې ټاکنې، د نومبر پر ۲۷-۲۸ د افغانستان په اړه د جینوا کنفرانس او د سولې د پروسې چټکول، کومو چې له اداري فساد سره د مبارزې د اصلاحاتو د پرمختګ پر سرعت باندې اغیز ښیندلی. افغانستان له اداري فساد سره د مبارزې د حقوقي چوکاټ ښه کول روان ساتلي او د ۲۰۱۸ کال د سپتمبر پر ۵ یې له اداري فساد سره د مبارزې قانون تصویب کړ، کوم چې له اداري فساد سره د مبارزې د عدلي مرکز لپاره یو پیاوړی بنسټ برابروي او له اداري فساد سره د مبارزې کمیسیون رامنځ ته کوي. دغه کمیسیون تر تنظیم وروسته، باید د اداري فساد پر ضد د ملګرو ملتونو کنوانسیون له ۶ مادې سره سم د اداري فساد د مخه نیوونکې ارګان په څیر چارې پرمخ یوسي. د اطلاع ورکوونکو د ساتنې د قانون تصویب او معلوماتو ته د لاس رسي بهتر شوی قانون باید له اداري فساد سره د مبارزې هڅې لا پسې پیاوړې کړي. معلوماتو ته د لاس رسي قانون د نړۍ په کچه یو له غورو هغو ګڼل کیږي، چې تیرې نیمګړتیاوې پوره کوي او معلوماتو ته د لاس رسي یو خپلواک کمیسیون تاسیسوي څو د اتباعو د پوهاوي حق ته وده ورکړي. د ۲۰۱۷ کال له اداري فساد سره د مبارزې ستراتیژۍ د ۲۰۱۸ کال په وروستیو کې بیا وکتل شوه او زیاتره معیارونه یې په تیره بیا د ملکي خدمت او قانوني اصلاحاتو په برخه کې معیارونه، پلي شوي. له اداري فساد سره د مبارزې د ادارو قانوني چوکاټ لا تر اوسه نه دی توحید شوی.

د جزا د نوي قانون تطبیق کوم چې د اداري فساد پر ضد د ملګرو ملتونو کنوانسیون ټول الزامي او ځینې اختیاري جرمونه رانغښتي، د اداري فساد د قضیو په څیړنه، عدلي تعقیب او قضاوت کولو کې ننګونې او فرصتونه رامنځ ته کړي. سترې محکمې په ټول افغانستان کې د قاضیانو لپاره د تفسیري لارښوونې د صادرولو له لارې د نوموړي قانون د تطبیق ملاتړ کړی. له اداري فساد سره د مبارزې عدلي او قضائي مرکز په بریالیتوب سره د جزا نوي قانون ته منتقل شو او د نوموړي مرکز اتهامنامې او پریکړې په غوره ډول د تعریف شویو جرمونو په تطبیق کې تدریجي ښه والی په ډاګه کوي. که څه هم د ۲۰۱۸ کال په دویمه نیمه یې کې له اداري فساد سره د مبارزې د عدلي او قضائي مرکز لاسته راوړنې نه یوازې د رسیدګې شویو قضیو د شمیر له پلوه، بلکې همدارنګه د تورنو اشخاصو د مشرتوب له پلوه راکمې شوې وې، خو د ۲۰۱۹ په لومړیو کې یو ځل بیرته زیاتې شوې. د دغه مرکز د بنسټ ایښودلو له پیل راهیسې د ۲۰۱۹ کال د مۍ تر منځنۍ مودې پورې، له اداري فساد سره د مبارزې عدلي او قضائي مرکز په ۵۷ قضیو کې ۲۲۳ تورن اشخاص په ابتدائیه محکمه او په ۵۲ قضیو کې ۱۷۳ تورن اشخاص په استیناف محکمه کې محاکمه کړي. سترې محکمې ته تر استیناف وروسته د نوموړي مرکز د ۱۱۷ تورنو کسانو په ضد د ۳۶ قضیو په اړه پریکړې شوې. له اداري فساد سره د مبارزې د عدلي اوقضائي مرکز د نیونو د امرونو په پلي کولو کې شته ستونزې لا اوس هم یوه اندیښنه ده. د امرونو او احضارنامو له ۱۲۷ کسیز لست څخه چې د ۲۰۱۸ کال له سپتمبر راهیسې ځنډیدلي، یوازې ۱۳ امرونه او ۳۹ احضارنامې اجرا شوي، په داسې حال کې چې یوازې یو تورن شخص محاکمه شوی. د هغو تورنو اشخاصو شمیر چې له اداري فساد سره د مبارزې د عدلي مرکز له خوا د هغوی په غیابت کې محاکمه شوي، د ۲۰ سلنې په درلودو سره لوړ پاتې دی. له اداري فساد سره د مبارزې د عدلي او قضائي مرکز په ګډون، په عدلي سکتور کې د ګمارنې، ترفیع او تبدیلي په اړه اصول د ښه کیدو په حال کې دي څو استخدام او شفافیت یقیني کړي. ننګوونکې امنیتي وضعیت په عدلي سکتور کې د اصلاحاتو د سوکه پرمختګ لامل دی.

[1] دغه انټرنیټ پاڼه وګورئ: https://www.transparency.org/research/cpi/overview(په وروستي ځل د ۲۰۱۹ د فبروري پر ۲ کتل شوې)

که څه هم له اداري فساد سره د مبارزې د مخه نیوونکو چارو درلودونکی نوی اټکل شوي کمیسیون د بیا کتنې په موده کې نه دی تاسیس شوي، د دغه کمیسیون نهایي جوړیدنه به له اداري فساد سره د مبارزې د اصلاحاتو د پر مخ وړلو په برخه کې ستر فرصتونه رامنځ ته کړي، خو که چیرې وکولای شي له لازمې خپلواکۍ سره خپلې چارې مخ ته یوسي. د ترلاسه شویو لاسته راوړنو څخه له کوم شاتګ پرته د دغو چارو د موثر دوام لپاره، د نورو ادارو له صلاحیتونو سره د وظیفوي تداخل موضوع باید حل شي. په دغو چارو کې د شتمنیو ثبت او تصدیق هم شامل دی. پخواني کمیسیون د نږدې ۳۰۰ پارلماني استازو په ګډون ټولټال ۱۶۹۴۳چارواکو خپلې شتمنې ثبتې کړې وې، چې ستر زیاتوالی پکښې بریښي.

مدني ټولنې له اداري فساد سره د مبارزې د اصلاحاتو په څارنه، تطبیق او سلا مشورو کې د خپل ستر رول لوبول روان ساتلي. له بل پلوه پای ته رسیدونکې ولسي جرګې د قانون جوړونې، تمثیلوونې او د څار د چارو په اړه خپله دنده، یا په خپل داخلي شفافیت کې د نیمګړتیاوو جبران نه دي شه کړي. په داسې حال کې چې نوې ولسي جرګه د اپریل پر ۲۷ پرانستل شوې، خو کارکردګي یې د دغه راپور لپاره نه ارزول کیږي. د ۳,۶ میلیونو وګړو له خوا په ډاګه شوې میړانه او عزم چې د شخصي ګواښونو سره سره یې رایې ورکړې، باید د ولسي جرګې له خوا له صداقت سره کار کولو ته په زیاتې پاملرنې سره مکافات شي.